# دکور دلوازمو اووسایلو لپاره پور (قرض)

**CSN FAKTABLAD 2012 PASHTO**

### څوک کولی شی (قرض) پور وکی او د څه لپاره؟

کډوال او ځنی نور بهرنیان چه یوه کور ته کډه کوی، کولای شی دکور دوسایلو لپاره د قرض لپاره غوښتنه وکی. د نورو موضوعاتو سره سره تاسو باید د کډوالو په پروګرام کی ګډون کړی وی او په ښاروالی کی د استوګنی پر وخت لږ تر لږه اتلس کلن اوسی نو کولی شی چی قرض د پاره غوښتنه وکړی.

تاسی کولای شی دغه قرض په لاس راوړی که یوه په موبل او فرنیچر مجهز کورته یا بیله دغه نه کډه کوی. یا په یوه کور کی یوه کوټه کرایه کوی. پیسی باید د پخلی لوازمو او موبل او فرنیچر او داسی نورو شیانو باندی مصرف شی. پیسی نه شی کیدای چه په جامو او کرایی باندی مصرف شی.

### کله زه کولای شم د پور غوښتنه وکړم؟

تاسی باید پس له لمړی منل کیدو نه وروسته په کومیون کی،د دوو کالو په بهیر کی د پور د غوښتنی عریضه وکړی. دا د زاړه پور د تکمیلولو لپاره هم اعتبار لری.

### څومره پیسی زه کولای شم پور کړم؟

د پور ستروالی د کورنی د اندازی، د موبل او فرنیچر شتوالی او نشتوالی او هم د ستاسو په شتمنی پوری اړیکه لری. تاسی هر کله کولای شی د پور د اکثری اندازی نه لږ قرض وکړی.

| د کورنی د غړو شمیر | بیله موبل او فرنیچر څخه نهایی اندازه، کرونه | د موبل او فرنیچر سره / د یوی کوټی کرایونکی |
|---|---|---|
| ۱ | ۱۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۲ | ۲۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۳ | ۲۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۴ | ۳۰۰۰۰ | ۵۰۰۰ |
| ۵ | ۳۵۰۰۰ | ۵۰۰۰ |

### څرنګه د پور د غوښتنی عریضه وکړم؟

د کمپ یا د کومیون د کډوالو د اداری (*Flykting-mottagning*) سره تماس ونیسی. دوی به د معلومات او د فورمو په ډکولو کی ستاسی سره مرسته وکړی. مسءول مامور به بیا فورمی سی.اس.ان ته ولیګی.

### آیا کولای شم په زاړه قرض باندی علاوه قرض وکړم؟

په لاندی حالاتی کی کولای شی په زاړه قرض باندی علاوه قرض وکړی:

- پخوا تاسی تر اکثر حد نه لږ پور اخیستی وه او اوس غواړی دکورنی دستروالی او دکور دشرایطو په پام نیولو کی خپل پور اکثر حد ته ورسوی.
- تاسی دیوه د موبل او فرنیچر سره کور نه یوه بل کور ته چه موبل او فرنیچر نه لری، کډه کوی.
- ستاسو په کورنی کی نوی ماشوم د لته په سویډن کی زږیګی.
- نژدی خپلوان چه د کومیون په پروګرام کی داخل دی، تاسی سره ژوند پیل کوی.

نژدی خپلوان عبارت دی له میره/ ښځه/ یو ځای ژوندکوونکی (*sambo*) او تر ۲۱ کلن لاندی اولادونه. میره ا وښځه / یو ځای ژوندکوونکی (*sambor*) ته مشترک قرض ورکول کیږی .

د قرض د علاوی په صورت کی میره/ ښځه/ یو ځای ژوندکوونکی (*sambo*) په مشترک ډول د ټول قرض د بیرته ورکوولو مسءولیت لری.

### اداری کمیشن

یواداری کمیشن د۳۰۰ کرونو معادل مستقیما د قرضی نه کسر کیږی. د قرض دعلاوی اداری کمیشن ۱۰۰ کرونه دی.

### دقرض پیسی څرنګه مونږ ته ر ا کول کیږی؟

دقرض پیسی تاسی ته د سویدبانک Swedbank له طرفه درکول کیږی. پیسی په دوه ډوله ورکول کیږی:

- د سویدبانک دتادیی ورقه (*Swedbanks utbetal-ningskort*). دایو ډول چک دی چه په سویډبانک کی دهغه په مقابل کی نقدی پیسی ورکول کیږی.
- په بانکی جاری حساب کی (*på konto*). دا کیدای شی یوبانکی جاری حساب یا په سویدبانک یا کوم بل بانک کی وی.

که تاسی غواړی چه پیسی دتاسو په بانکی جاری حساب کی واچول شی نو تاسی خپله باید کنټرول کړی چه دتاسو بانکی جاری حساب د سوید بانک دپرداخت سیستم اس.یو.اس (*SUS*) سره وصل دی. که چیری دیپسودتادیی په وخت کی د تاسو بانکی حساب د اس.یو.اس سره وصل نه وی یا سی.اس.ان دتاسو مکمل ځانګړی لمبر (*personnummer*) ونه لری، نو پیسی به د سویدبانک دتادیی ورقه (*Swedbank*) په وسیله تاسو ته درکړی شی.

### څه وخت باید پور بیرته ورکړ شی؟

د پور بیرته ورکول، دپیسو لمړی ځل اخیستلو نه د دوو کالو نه وروسته په لمړی میاشت کی پیل کیږی.

میره/ ښځه/ یو ځای ژوندکوونکی (*sambor*) د مشترک پور اخیستلوکی، په مشترک ډول د ټول قرض د بیرته ورکوولو مسءولیت لری.

د پور د بیرته ورکولو موده د پورد اندازی په پام لرلوسره، د ۱ نه تر ۱۵ کالو ده.

| د پور اندازه | د پور بیرته ورکولو موده |
|---|---|
| لاندی تر ۱۰٪ داساسی مبلغ نه | ۱ کال |
| لاندی تر ۴۰٪ داساسی مبلغ نه | ۳ کاله |
| لاندی تر ۸۰٪ داساسی مبلغ نه | ۵ کاله |
| لاندی تر ۱۰۰٪ داساسی مبلغ نه | ۷ کاله |
| لاندی تر ۱۱۰٪ داساسی مبلغ نه | ۸ کاله |
| لاندی تر ۱۲۰٪ داساسی مبلغ نه | ۱۰ کاله |
| زیادتر از ۱۲۰٪ داساسی مبلغ نه | ۱۵ کاله |

(اساسی مبلغ Basbeloppet په ۲۰۱۲ کال کی ۴۴۰۰۰ کرونه دی)

### ګټه (سود) څرنګه حسا بیږی؟

ګټه (سود) هر کال حکومت تعین کوی. ګټه دهغی روځی نه حسا بیږی چه تاسی په لمړی ځل د پور پیسی واخیستی. د دوو لمړیوبیرته نه ورکولو کالو مجموعی ګټه به په پور علاوه کیږی کله چی تاسی د پوربیرته ورکول پیل کوی. پس له دی نه سود په مستمر ډول د ټول پور نه حسابیږی.

په ۲۰۱۲ کال کی سود 3،56 فیصده ده.

### څرنګه پور بیرته ورکول کیږی؟

پور په عادی ډول هره میاشت بیرته ورکول کیږی (*återbetalas*). یو ځل په در یو میاشتو کی به دری دانی دبیرته ورکولو ورقی (*inbetalningskort*) تاسی ته در لیرل کیږی ( یوه د هر ی میاشتی لپاره).

یواداری کمیشن معادل د ۳۰ کرونو ، څلور ځله په کال کی اخیستل کیږی. که د پرداخت تر نهایی روځی (*förfallodagen*) پیسی سی.اس.ان ته را ونه رسیدی، تاسی ته به بیا د یادآوری لیک (*påminnelse*) په راتلونکی میاشت کی ولیږل شی. د یاد آوری فعلی فیص ۵۰ کرونه اخیستل کیږی.

دپورد بیرته ورکولو په محاسبه کی لمړی نه تادیه شوی فیصونه بیا سود او په آخر کی د پور بیرته ورکولو قسط کسرکیږی.

### په خپله خوښه د پور بیرته ورکول

د زرترزره بیرته ورکولو لپاره تاسی کولای شی په خپله خوښه د پور بیرته ورکول پیل کړی.

د پور بیرته ورکول کیدای شی دغه بانکی حساب ته 5201-1053 (*Bankgironummer*) یا دغه پوستی حساب (*Plusgironummer*) 476 51 01-3 ته اجرا شی. تاسی باید د پور لمبر، خپل ځانګړی لمبر (*personnummer*)، نوم او آدرس د دبیرته ورکولو په ورقی کی ولیکی. که تاسی غواړی د اینترنیت له لاری پیسی ولیږی نو باید او.سی.ار (*OCR-nummer*) لمبر نه استفاده وکړی، دغه لمبر کولای شی د سی.اس.ان نه په لاس راوړی.

CSN 4001U/1112

## که زه پور بیرته نشم ورکولای

که تاسی د لږ درآمد په سبب نشی کولای پور بیرته ورکړی، کولای شی د قسط داندازی د ټیټوالی یاد کامل مهلت (وقفه) عریضه وکړی. د عریضی فورمو سره په اوتومات ډول د لمړی بیرته ورکولو ورقی *(inbetalningskort)* به هم تاسی ولیږل شی.

د قسي د اندازی د ټیټوالی یا د کامل مهلت د ځیړلو په بهیر کی سی. اس. ان ستاسو د کورنی د غړو شمیر او مجموعی د مالیی لاندی عواید په نظر کی نیسی.

سود به تر هغه حسابیږی تر څو ټول پور بیرته نه وی ورکړ شوی، حتی که تاسو ته د قسط داندازی د ټیټوالی یاد کامل مهلت ( وقفه) اجازه هم درکړشوی وی. د پورد کامل مهلت (وقفه) په صورت کی ستاسو پور به نور هم زیات شی.

که تاسی په بهر کی ژوند کوی نود قسط داندازی د ټیټوالی یاد کامل مهلت ( وقفه) لپاره نور مقر رات وجود لری. نژدی معلومات سی.اس.ان درکولای شی.

د قسط داندازی د ټیټوالی یاد کامل مهلت (وقفه) د یوه کلنیزکال لپاره ورکول کیږی.

## آیا پور ببنل کیږی؟

ستاسو پور به وبښل شی که چیرته سی.اس.ان ومنی چی تاسو به اوږده موده کی دا نشی خلاصولی.

که سړی مړشی پور یی په اوتوماتیک ډول ببنل کیږی.

## اینترنیتی پاڼه

زمونږ په اینترنیتی پاڼه کی www.csn.se، دستاسو د پور په هکله معلومات شته دی.

## پته یاآدرس بدلید ل

که تاسی په سویدن کی نوی ځای ته کډه کوی، باید خپل نوی آدرس د نفوسو د احوال د ثبت اداری *(Folkbok-föringen)* ته اطلاع ورکړی. ښه به وی چه سی.اس.ان ته هم اطلاع ورکړی.

خپل نوی آدرس په بهر کی باید مستقیما سی.اس.ان ته اطلاع ورکړ شی.

د آدرس کارت *(adresskort)* له سی.اس.ان. نه کولای شی فرمایش ورکړی.

## زیات معلومات

زیات معلومات دسی.اس.ان څخه په لاندی آدرس ورکول کیږی:

CSN
Hemutrustningslån
SUNDSVALL 82 851
تیلیفون: 100 276-0771
دتیلیفونی تماس وخت: 9.00–12.00
فاکس: 06 60 18-060
ایمیل: hemutrustningslan@csn.se
اینترنیت: www.csn.se

**د دی پاڼو ژباړی په دغه ژبو شته دی: البانیایی، پښتو ,دری ،عربی،اینگلیسی،فرانسوی،کوردی شمالی ،فارسی، رومانیایی،روسی،(بوسنی. کروواتی.صربی)، سومالیایی،هسپانیایی، کوردی جنوبی،تیگرینیایی، ترکی، ویتنامی،بادینایی و رومانی. دژباړی مسءول Semantix ده.**